مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۳/۰۵/۰۶

# نزاکت پوهیدنه د مرکې پر مهال

هر که ناموخت از گذشتِ روزگار
نیز نامــــوزد، ز هیـچ آمــوزگار
رودکی

طالبانو ته د وینا پر مهال یا د مرکې پر مهال د نزاکت پوهیدنې یو درس:
په دې پوه شئ ، چې خلک تاسي په میډیا کېویني ،او ستاسو تبصرې اوري ،او دا هماغسي د تل له پاره په رسنیو کې پاتي کیږي ،که زمونږ وي او که ستاسو وي ،او پر مونږ او تاسو به قضاوتونه کیږي .ستاسومرکي ټول اوري ،او دا به په میډیا کې تر ډیر لیري زمانو پوري پاتي شي ،که دا ستاسو وي او که زمونږ وي،حرکات او سکنات مو ټول اهلِ خبره په خپلو سترګو ویني ،ستاسو نا عاقبت اندیشه خبرې او د ادب او د وینا د نزاکت نه لیري اکتونه او خبري ،او هغه اکټونه چې ستاسي د استخباراتي بادارانو آستازیتوب کوي ،دا هم خلک په میډیا کې ویني ،اوس خو هغه وختونه نه دي چې سړي به ګوندی یوه خبره وکړه، او هغه به بادِ هوا لاړه ،او وروسته به سړی د هغې د وئیلو نه هم منکر شو، او قسمونه به یې خوړل چې ما نه دي وئیلي .اوس خو زمونږ ټول کړه وړه د مرکې پر محال ، په میډیا کې ثبتیږي ، کومی سهوې او خطاګاني چې د مرکې پر مهال کوئ ، دا ټول ثبت شوی پاتي کیږي ، ستاسی ټول حرکات سکنات او خبری د ادب او نزاکت نه لیري، او نژدې اکټونه ټول په فیسبوکونو اوټلویزیونوکې راځي ، او ثبت پاتې کیږي ، باید چې د فارسی د دې لنډې وجیزی په استناد چې وایی : ( مرد تا سخن نګفته باشد ، عیب و هنرش نهفته باشد)تاسی باید په خپلو ویناوو هم پام وکړئ،تاسي باید داسي خبری وکړئ چې ستاسي فهم او اندرونی جوهر ښکاره کړي، زمونږ ټول د تکبر نه ډکې خبرې او یا د عاجزۍ او انکسارۍ حالات ټول ثبتیږي ،او دا بار بار په فیسبوکونو میډیا ګانو او ټلویزیونوکې ښودل کیږي او راځي،یعنی زمونږ خبرې بادِ هوا نه ځي، ثبتیږي ،زمونږ لیدني او کتنې چې د چا چا سره ګورو ، او څرنګه غږیږو دا هم ټول ثبتیږي ،چې په فرض مثال د کوم هیواد صدراعظم یا بهرنیو چارو وزیر سره ګورئ ، او څه وایاست او څه رقم اکټونه کوئ ،دا به لیدل کیږي او پردې به قضاوتونه کیږي ،او دا باید په ډیر انکسارۍ کې وي ، او متکبرانه نه وي ، د بایزید بسطامی وینا ده چې وایي: ( هرګز از متکبر بوی معرفت نیاید) چې یعنی د متکبره څخه هیڅکله د پوهنې او معرفت بوی نه راځي، تر اوسه چې مونږ کومه تجربه لرو ، او ګورو دا متل خو بیخی سل پر سله تاسی په خپل ځان
ثابت کړئ چې وایی : (ترکاني د بیزو کار نه دی ) سیاست ستاسو کار نه وو ، خو جبراً دي کار ته راوستل شوئ ، طالبانو دا مسایل نه دې مراعات کړی ، په دي اړه یې نه د لیري راتلونکی او نه د نژدې راتلونکی په اړه سوچ کړی ، څومره چې د طالبانو وسع کیږي، په هماغومره په خپل خبرو کې بی باکه دي ، لکه په خپل سیاست او اداري کې چې بیباکه روان دي ،تر اوسه چې وینو طالبانو د هیڅ چا هم نه ده منلي او نه یې منی ،او دا انتها دي بیباکي او نادانۍ ده ،او دا هغه کوږ بار دی چې تر ابده تر منزله نه رسی ،
ترسم نه رسی، به کعبه ای اعرابی
کین ره که تو میروی ، به ترکستان است
په آخره کې د حضرت حافظ د معنی نه ډک او د موضوع سره په تړاو بسنه کوم چې وایي:

حافظ وظیفه ای تو دعا گفتن است و بس
در قید آن مباش ، که نشنید ، یا شنید



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ